ژباړه: سمسور ودان ۲۰۲۶/۰۱/۲۷

# په جومات کې د ډاچي فلم اعلان

هندوستان تازه تازه وېشل شوی و، خلکو چندان راډیوګانې نه لرلې او خلکو به د کاروبار د تشهیر لپاره د جوماتونو له لاوډ سپیکرو څخه کار اخیسته.

فلم جوړونکي (اسلم ایراني) څه پیسې سره راجمع کړې او ډاچي فلم یې جوړ کړ، چې د لاهور په ( Bambino the cinema) کې یې ننداري ته وړاندې کاوه. دی هم د فلم لپاره د بازار موندنې په خاطر مولوي صیب ته ورغی او ترې ویې غوښتل چې د ډاچي فلم لپاره دا اعلان وکړئ، چې: راتلونکې یکشنبه به سنیما کې ۳ ځله نشریږي.

مولوي صیب چې دا واورېدل، نو سخت غوسه شو، ویلې: کمبخته! دا څه کفر را نه غواړې؟! اوس به له جوماتونو څخه د فلمونو او بې حیایي اعلانونه کیږي؟

اسلم ایراني یې چې ځواب واورېد نو له جیب څخه یې یوه کڅوړه ور وویسته او په زاری یې وویل: رحم وکړه مولوي صیب! په دې فلم مې زیاتې پیسې مصرف شوې، که ښه و نه چلېده نو بربادېږم.

مولوي صیب کڅوړه پرانیسته، له پیسو ډکه وه، یو څه ځنډنی شو او بیا له موسکا سره وپوښتل: لومړی ننداره یې کله ده؟

اسلم ټول تفصیل ورکړ، مولوي صیب وویل: اوس درځه! زه دې د جمعې په ورځ څه غم خورم.
چې د جمعې ورځ راغله نو مولوي صیب له لمانځه وړاندې وعظ و نصیحت شروع کړ، په زیاتېدونکې بې حیایۍ یې بحث وکړ، چې څنګه ورځ تر بلې مغربي کلتور زموږ ځوان نسل تباه کوي. ویلې: موږ صرف په نوم مسلمانان یو، اعمال مو نه دي.

همدا اوس دلته وګورئ! غټ سرونه د هو لپاره ښوروئ، ښکلې خبرې اورئ، خو پوهېږم چې هیڅ عمل به پرې ونکړئ، چې لمونځ وکړئ، بهر به لاړ شئ! که چا درته وویل چې: د یکشنبې په ورځ بمبینو سینما کې ډاچي فلم نشریږي، چې سدهیر، نیلو، نغمه او زینت پکې دي، نو ټول به په منډه ورشئ، وایئ به، چې: د مولوي نصیحت مو ډېر واورېده، اوس باید د سندرغاړو (مالا، احمد رشدي او مسعود رانا) په ښایسته اوازونو کې سندرې واورو.

د دین په اړه هیڅ ته معلومات نشته، خو په دې ټول پوهیږي، چې د فلم کیسه حازن قادري لیکلې، چې له ایکشن او بې حیایۍ ډک دی، هېرو یې سدهیر او ویلن مظهر شاه دی.

جوماتونو ته ننوتل مفت دي، خو د لمونځ ګذارو شمېر وګورئ او هلته چې ټیکټ په یوه روپۍ دی، ټول دهلیز ډک وي.

ژباړه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ